د ښه ملګري او بد ملګري مثال د مشکو والا او د پخ (آهنګر دی)،

ابو موسی رضي الله عنه له پېغمبر صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې فرمایي: "د ښه ملګري او بد ملګري مثال د مشکو والا او د پخ (آهنګر دی)، نو کوم چې د مشکو والا دی: یا خو به درته مشک ډالۍ کړي، یا به یې تري واخلې او یا خو به تري ښایسته بوی درشي، او پخ چې دی؛ نو یا خو به دې کالي وسوځي، او یا به تري بد بوی درشي».

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د دوه ډوله خلکو مثال بیان کړ: لومړی ډول: نېک او صالح ملګری چې د الله لورې او هغه څه ته دې لارښوونه کوي چې هغه پرې خوشحالیږي، او په اطاعت کې دې مرسته کوي. نو د ده مثال لکه د مشکو پلورونکي دی چې یا خو به یې درکړي، یا به یې تري واخلې او یا به تري ښایسته بوی درشي. او دویم ډول: بد ملګری؛ چې د الله له لارې دې منع کوي او د ګناهونو په کولو کې دې مرسته کوي او بد کارونه به تري وینې او د هغه په څېر خلکو د ملګرتیا او ناستې پاستې له املې به د خلکو مخ در اوړي. نو د ده مثال د هغه پخ (آهنګر) په څېر دی چې اور پوکوي؛ نو یا خو به د اور سپرغۍ دروالوځوي او کالي به دې وسوځوي، او یا خو به ورته د نږدې والي له املې بد بوی وموميږي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3127